**<u>اعلامیه</u>**

(ژباړه)

# پرېږدئ چې مسلمان افسران د مسجد الاقصی د ازادولو لپاره له هغو ملکي مسلمانانو څخه الهام واخلي چې په دغه لاره کې یې په وقار او صبر سره شهادت ته غېږه ورکړه.

که له یوې خوا د پاکستان پر مشرتابه د فلسطین د ازادولو په موخه د لښکر د لېږلو لپاره ډېر فشارونه وارېدیږي، له بل لوري یوه نوې پوښتنه مطرح کیږي چې د فلسطین د مسلمانانو د دغو قربانیو ګټه څه ده!؟ په داسې حال کې چې هرڅوک پوهیږي چې دوی بایلونکي دي. په دې اړه باید لاندې ټکي په پام کې ونیول شي.

1 - ګڼ شمیر فلسطیني مسلمانان شهیدان کیږي، خو هغه مسلمانان چې کورونه یې ړنګیږي، ماشومان یې شهیدانیږي او د دې جګړې ټول لګښت پرې کوي، هېڅ ډول شکایت نه کوي، بلکې موږ د دې شاهدان یو چې دوی یوازې صبر او استقامت کوي او د جګړې بلنه ورکوي. دوی پوهیږي چې بې ځایه نه شهیدان کیږي. دوی د جنت په لوړو مقامونو کې د ابدي خوشالۍ او تلپاتې ژوند د ګټلو لپاره په شهادت رسېږي.

2 - د فلسطین د مسلمانانو دغه قرباني د ټولو هغو مسلمانانو لپاره له عبرت څخه ډک مثال دی، څوک چې د خپل ځان په اړه د قیامت له ورځې څخه ویره لري. د دوی د روحونو او شتمنیو له لاسه ورکول زموږ وجدان د غفلت له خوبه ویښوي او موږ هڅوي چې په دې اړه فکر وکړو، خبرې وکړو او فلسطین ته د لښکرو د لیږلو دومره شدیده غوښتنه وکړو، چې تر دې مخکې مو هېڅکله نه وي کړې. پرېږدئ چې زموږ پوځي افسران د فلسطین له مسلمانانو سره ودریږي او اعلان وکړي چې: «ای الله! موږ ستاسو په خدمت کې یو او موږ په خپلو سرونو او مالونه سره ستا د جنت اخیستلو لپاره له تاسره تجارت کوو.

3 - د فلسطین وضعیت د تحلیل، دسیسه یي تیوري او ستراتیژۍ مسله نه ده. دا د الله سبحانه وتعالی په لاره کې د وسله والو ځواکونو له لوري د خپل ایمان او تقوا د ازمویلو او د جهاد ترسره کولو مسله ده. دا له زړونو څخه د وهن، له ژوند سره د مینې او له مرګه څخه د وېرې د لرې کولو خبره ده. پرېږدئ چې زموږ تر منځ نظامي افسران زموږ د پوځ صفونه سمبال او ټول هغه خاینین له منځه یوسي، چې د دوی مخه نیسي.

4 - فلسطیني مسلمانان دغو حقیرو رویبضه (نا اهله، مزدورو او احمق) واکمنانو او د دوی لوډسپیکرونو ته شکایت نه کوي، نو ولې دوی د فلسطیني مسلمانانو په استازیتوب شکایت کوي!؟ نور مو بهانې بندې

کړئ، تاسو د خپل مکلفیت په ترسره کولو کې غفلت کوئ. ایا اوس هم د مسلمانانو بدمرغي هغې کچې ته نه ده رسېدلې چې تاسو د اشغالګرو د غلامۍ پرېښودلو ته اړ باسي. حتی تاسو اوس هم له یهودي دولت سره د اړیکو د عادي کولو او د دې دولت د اشغال د قانوني کولو لپاره ګامونه پورته کوئ! ستاسو لپاره دا غوره ده چې قدرت پرېږدئ، مخکې له دې چې په زور در څخه واخیستل شي.

5 - **اې د پاکستان په وسله والو ځواکونو کې د صلاح الدین زامنو!** ټول مسوولیت ستاسو پر غاړه دی. په خپلو وینو او وسلو سره د خپل ځان لپاره تر ټولو غوره تجارت وکړئ او د خپل دین لپاره بریا یقیني کړئ. الله سبحانه وتعالی فرمایي:

**﴿إِنَّ اللهَ اشْتَرَى مِنَ الْمُؤْمِنِينَ أَنْفُسَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ بِأَنَّ لَهُمُ الْجَنَّةَ يُقَاتِلُونَ فِي سَبِيلِ الله فَيَقْتُلُونَ وَيُقْتَلُونَ وَعْداً عَلَيْهِ حَقّاً فِي التَّوْرَاةِ وَالإِنْجِيلِ وَالْقُرْآنِ وَمَنْ أَوْفَى بِعَهْدِهِ مِنَ الله فَاسْتَبْشِرُوا بِبَيْعِكُمُ الَّذِي بَايَعْتُمْ بِهِ وَذَلِكَ هُوَ الْفَوْزُ الْعَظِيمُ﴾**.

ژباړه: په حقیقت کې الله سبحانه وتعالی له مؤمنانو څخه د دوی ځان او مال د جنت په بدله کې اخیستي دي. دوی د الله په لاره کې جنګیږي، وژني او وژل کیږي. له دوی سره په تورات، انجیل او قران کې الله سبحانه وتعالی په کلکه د جنت ژمنه کړې ده (جنت ته تګ یې د الله پر ذمه دی) او څوک له الله څخه ډېر د خپلې ژمنې پوره کونکی دی؟ پس له الله سبحانه وتعالی سره د خپل دغه تجارت په اړه خوښ اوسئ، همدا تر ټولو ستره بریا ده. [توبه:۱۱۱]

**د حزب التحریر- ولایه پاکستان مطبوعاتي دفتر**

**۱۴۴۵ هـ.ق کال، د ربیع الاول۲۷مه**

**۲۰۲۳م کال، د اکتوبر۱۲مه**

**د صدور ګڼه:۴۵/۱۴**